# د بلوچستان دننه ډېره بګټي،

# چرته چې تګ منع دے

لیک : مقبول احمد ترجمه : احسان الله او ناصر

کله چې هغۀ زما د بېګ تلاشي اخستل شروع کړل نو زۀ وویرېدم. هغۀ د تلاشۍ نه پس ماته ووې چې کۀ دا ټول څیزونه تۀ د ځان سره وړې نو بیا تۀ هلته نۀ شې رسېدې. زما د بېګ تلاشي اخستونکے احمد ؤ او هغه زما د یو دوست فیاض ملګرے ؤ. هغۀ زما بېګ کتلو چې پکښې څۀ داسې څیز خو نشته چې د کشمور نه تر ډېره بګټي تللو په وخت په مختلفو چېک پوسټونو زما دپاره مشکلات پېدا کوي.

مونږ د کشمور په یو هوټل کښې ناست وو او راجن پور ته روانېدو.



احمد زما ډیجیټل کېمرې ته وکتل او وې وئیل چې دا کېمره به ستا شناخت کوي او سیکیورټي واله به دې د چېک پوسټ نه راواپس کوي.

هغۀ ماته ووئیل چې سیکیورټي فورسز سوئي او ډېره بګټي (چې د نواب اکبر بګټي اهمې ضلعې دي) د صحافیانو دپاره نو ګو زون No Go Zone ګرځولي شوي دي. هغوي دا خبره هم وکړه چې ډېرو صحافیانو چا چې به د اخبارونو دپاره د دې ځائے رپورټنګ کولو هغوي اوس دا ځائے پرېښے دے ځکه چې هغوي ته به مقامي لیډرانو او اېجنسیو دړکې ورکولې. اوس هغوي زیات رپورټنګ د کشمور نه کوي. هغه رپورټران څوک چې اوس هم د دې علاقو نه د کوئټې او کراچۍ علاقائي اخبارونو له رپورټنګ کوي هغوي یا خو خپل شناخت پټوي او یا دومره رپورټنګ کوي څومره چې هغوي ته اجازت ورکولے شي.

د کشمور نه د سوئي په لاره ډېره بګټي ته د داخلېدو دپاره مونږ وړومبے د پنجاب ضلعې راجن پور کښې داخل شو. مونږ چې کله ډولې چېک پوسټ ته نزدې شو نو سیکیورټي ګارډ زمونږ ګاډے تقریباً سل میټره د چېک پوسټ نه لرې ایسار کړو. ډرائیور د ګاډي نه کوز شو او خپل شناخت دپاره د چېک پوسټ یوې کمرې ته ننوتو. احمد ډرائیور ته ووئیل چې هغه به هر یو چېک پوسټ کښې هم داسې تلاشي ورکوي څو پورې چې مونږ سوئي ته نۀ یو رسېدلي. د چېک پوسټ نه سل

ګزه لرې مسافر ودرولے او تپوسونه ترې کولے شي. فیاض او احمد د ګاډي نه کوز شو او د چېک پوسټ طرف ته روان شو. زمونږ تلاشي وشوه او زمونږ ګاډے هم چېک کړے شو. احمد ووې چې د سوئي او ډېره بګټي منځ کښې چې کوم چېک پوسټونه دي هلته داسې چېکنګ نۀ کېږي. د هغې یوه وجه دا ده چې کوم ډرائیوران د کشمور نه ګاډي چلول شروع کړي نو تر سوئي پورې ئې هم هغوي چلوي او دغو ډرائیورانو د دغو پوسټونو عملې سره تعلقات پېدا کړي دي.



مونږ یوه ګېنټه کښې درې چېک پوسټونه کراس کړل او سوئي ته داخل شو. کله چې مونږ د نواب اکبر بګټي کور طرف ته روان شو نو په ځلورم چېک پوسټ موجودو قبائلو زمونږ تلاشي واخسته او د چېک پوسټ نه اخوا ئې ګاډے نۀ پرېښودو او ډرائیور ته ئې ووې چې هغه دې ګاډے د بګټي د کور بلې غاړې ته ودروي.

یو ډاکټر هیرالډ ته ووې چې میر علي خو آئي ایس آئي په وجه د ډېره بګټي نواب جوړ شو خو بیا هم د حکومت په سیکیورټي اعتماد نۀ کوي. فوځ او ایف سي والو ته حکم شوے دے چې هغوي د بګټي قلعې نه لرې ودرېږي چرته چې میر علي اوسېږي. لږ ساعت پس مونږ ښار ته ورسېدو چې مزدورانو پنجاب ته ګېس ورکونکے پائپ لائن جوړولو. یو تن ووې چې عسکریت پسند دا پائپ لائن وخت په وخت الوځوي خو دا د پټرولیم کمپنۍ دپاره څۀ خاص مسئله نۀ ده او هغوي وخت په وخت دا پائپ لائن بیرته جوړوي. هغوي ووې چې د دې چاودنو او پائپ لائنونو الوځولو مقصد دا دے چې حکومت ته یادګیرنه وکړي چې اوس هم بلوچستان کښې بغاوت روان دے.

په ډېره بګټي کښې کوڅې ګنده او تنګې دي. احمد زۀ د دې خبرې نه هم خبر کړم چې دلته هره کوڅه کښې د مختلفو ګروپونو ترمنځ د قبیلې د سردارۍ دپاره جنګ روان دے. یوه ګېنټه پس مونږ د سوئي نه ډېره بګټي ته روان شو چې د دې ځائے نه پنځوس کلومیټره فاصله باندې ؤ. وړومبنو چېک پوسټونو باندې ما دومره خیال ونۀ کړو. ګاډے ودرېدو او ډرائیور تلاشي ورکړه ناڅاپه یو فوځي د ګاډي دروازه لرې کړه او ماته ئې ووې چې د ګاډي نه ولې نۀ راکوزېږې؟ ما ورته په نرمه لهجه کښې ووې چې زۀ دلته په وړومبي ځل راغلے یم. هغۀ زما نه د آئي ډي کارډ تپوس وکړو. ما ورله کارډ ورکړو او ورته مې ووې چې زۀ د فیاض دپاره کار کوم. زۀ د هغۀ اسسټنټ یم هغۀ ماله اجازت راکړو. مېن چیک پوسټ کښې زما تلاشي وشوه بیا فیاض او احمد طرف ته ورغلم هغوي زما انتظار کولو. د چېک پوسټ دواړو طرفو ته ډېر زیات ګاډي ولاړ وو او ډرائیوران د تلاشۍ دپاره یو اړخ ته په قطار کښې ولاړ وو. ډېر بوډاګان هم وو چې د جون په ګرمۍ کښې ایسار کړي شوي وو. د دوي مطلب زمونږ بې عزتي کول وو ولې چې ټول خلق پیاده چېک پوسټ طرف ته روان وو. زمونږ

ډرائيور ووې چې کوم سيکيورټي واله ګاډے چيک کوي هغه ګاډي کښې د ننه کسان ولې نۀ چيک کوي؟ دوي په دې طريقه بلوچ قوم ته سزا ورکوي ځکه چې دوي د خپلو حقونو د پاره اواز وچت کړے دے.

د سوئي او ډېره بګټي په منځ کښې واچ ټاور او پوسټونه جوړ کړي شوي دي د دربم چيک پوسټ نه پس مونږ يو ځائے کښې ودرېدو چرته چې سړکونه دوه شوي وو يو د لوټي ګېس فيلډ طرف ته تلے ؤ او بل ډېره بګټي طرف ته تلے ؤ. د دغه ځائے نه چې مونږ مخکښې شو نو احمد ماته په غوږ کښې ووې چې د دې نه پس د ايف سي واله کنټرول شروع کېږي. يو څو منټو کښې زمونږ ګاډے ډېره بګټي ته ورسېدو. ډېره بګټي کښې ښي اړخ ته د ايف سي قلعه ده او ګس طرف ته ئې د بګټي قلعه ده کوم کښې چې نواب اکبر بګټي اوسېدو خو اوس دا قلعه په هغه حالت کښې نۀ ده ولې چې د شيلنګ په وجه د دې ديوالونو کښې سُوري شوي دي او مېن ګېټ ئې هم نشته. د بګټي قلعې مخالف طرف ته تقريباً پنځوس دکانونه دي دي چې دا وخت بند دي. د دې دکانونو مالکان هندوان وو او هغوي دا علاقه ډېره وړاندې پرېښې ده. مونږ ته ووئيلي شو چې د بګټي د قلعې نه شاته د بګټي قبر دے. د قبيلې د يو مشر د وينا مطابق د دې قبرستان نګراني سيکيورټي ګارډز کوي او څوک هم د نواب اکبر بګټي قبر ته نۀ پرېږدي. دې سره خوا کښې د بګټي زمکې دي کومې چې د هغې وخت نه شاړې پرتې دي کله چې هغۀ د سيکيورټي فورسز خلاف په 6-2005 کښې غرونو ته تلے ؤ. دې مشر مونږ ته دا هم ووئيل چې د جنګ دوران کښې کوم خلق بګټي سره تللي وو هغوي بيا رانغلل. ډېره بګټي په يوه زمانه کښې ډېره اباده وه او ابادي ئې تقريباً اويا زره وه. اوس صرف لس زره خلق پاتې شوي دي. په ظاهره خو حالات ټيک ښکاري خو اوس هم دلته بمونه خلاصېږي. يو څو ورځې وړاندې د تحصيل بازار کښې يو ريسټورنټ کښې د بم چاودنه شوې وه، مونږ هم هغه وخت هلته موجود وو. په دغه چاودنه کښې دوه تنه مړۀ شوي وو. دلته مونږ له مشوره راکړې شوه چې ډېره بګټي نه څومره زر کېدے شي ووځئ ولې چې دلته د سوئي په نسبت حالات ډېر خراب دي او بله وجه دا ده چې کوم سرکاري افسران دلته راځي هغه بلوچيان نۀ دي او د غېر بلوچيانو ډېره بګټي ته داخلېدل ډېر ګران دي.



مونږ سوئي ته واپس راروان شو هم هغه رنګ زمونږ چيکنګ وشو کله چې مونږ د ډولي چيک پوسټ نه راواوړېدو او راجن پور ته رادننه شو نو احمد زما خيال يو سائن بورډ ته راوګرځولو چې پرې ليکلي شوي وو ((پُرامن او محفوظ پنجاب)). مونږ به نن دا غېر انساني سلوک نۀ وے کتلے کۀ مونږه هم د پنجاب يوه برخه وې. هغۀ ماته ووې دا قتلونه او اغواګانې په راجن پور کښې هم ډېرې دي خو د دې ځائے خلق د فوځ د سپوري لاندې ژوند نۀ تېروي څنګه چې د ډېره بګټي او سوئي خلق تېروي. کله چې د راجن

پـور خلق خپلو کـارونو پسـې ووځي نـو دوي هـيڅ قسمه ويره نۀ محسوسوي.